څېړنوال دکتوررفیع الله نیازی

# په پښتو لنډیو کې د پښتني کلتور انعکاس

# The Reflection of Pashtun Culture in Pashto Landey

**Associate Professor Rafiullah Nazia**

## Abstract

Landey is a unique poetical genre in Pashto folklore. In Pashto folklore, since time immemorial, Landey exist with unknown creators. It is a rich genre, particularly in terms of culture it reflects every implicit aspect of Pashtun Culture. This article will explore only a few aspects of Pashtun Culture as reflected in the Pashto folkloric genre of Landey.

## لنډیز

لنډۍ د پښتو ژبې د ولسي ادب یو منظوم ژانر دی، چې د تاریخ په اوږدو کې بېلابېلو وګړو ویلې دي او د پښتني ټولنې د ټولنیز ژوندانه هره برخه پکې منعکس شوې، خو ار ویونکي یې نه دي څرګند او کلتور د یوې ټولنې د وګړو د نږدې ټولو کړو ټولګه ګڼل کېږي. له یوه اړخه کلتور یو پراخ بحث دی او له بل اړخه پښتني کلتور د پښتنو د قبیلوي جوړښت له امله د نړۍ د نورو ولسونو د کلتورونو په پرتله ډېر غني دی، نو په پښتو لنډیو کې به د ټول پښتني کلتور د انعکاس څېړل ډېر ګران وي، موږ به په دې لیکنه کې په پښتو لنډیو کې د پښتني کلتور ځینې برخې وڅېړو.

## سریزه

لنډۍ، چې په پښتو ادب کې د ټپې، ټکۍ او مســــرې په نوم هم یادې شوي، داسې فولکلوري منظوم فورم دی چې د بنې له پلوه ډېر لرغونی دی، یعنې څومره چې پښتو ژبه او پښتون قام لرغونی دی، هومره ورسره لنډۍ لرغونې دي. په موضوعي لحاظ هم لنډۍ دومره هر اړخیزې او متنوع دي، چې د پښتنو د ژوند ژواک نږدې ټول ټولنیز اړخونه پکې په عجیب خوند او انداز په طبیعي ډول منعکس شوي دي. په ټولیز ډول د وګړو د ژبو د ولسي او لیکني ادب په ګډون د انساني ژوند نږدې ټول مادي او معنوي اړخونه د کلتور، ثقافت، تهذیب یا فرهنګ په دایره کې شامل دي. د هرې بشري ټولنې د وګړو خیالات، غوښتنې، ارمانونه، انګېرنې، دودونه، کږه وږه او نورې ډېرې برخې د هغې ټولنې په منظومو او منثورو ادبي ژانرونو کې په یوه نه یوه بڼه انځور شوي وي، خو پښتني فرهنګ د پښتو ژبې د ولسي شعري فورمونو له ډلې په لنډیو کې په ډېر نا اشنا انداز انځور شوی دی. دا موضوع یوې هر اړخیزې څېړنې او شننې ته اړتیا لري او ډېرخه پرې لیکل کېدای

شـي، خو د دې مقالې په اډانه کې به موږ د پښـتني کلتور پرځینو اوڅارو برخو بحث وکړو او که ژوند باقي و، دا موضـوع به وغځوو او یا به نور لیکوال او پوهان په دې برخه کې خپله هڅه وکړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

ولســي ادب د یوې ټولنې د وګړو د ولســي ژوند د کړو وړو هنداره ګڼل کېږي، چې د اړوندو ټولنو ټولنیز کلتوري ارزښـــتونه پکې انځور شـوي وي. په ټولنپوهنیز لحاظ د نړۍ د ولسـونو د ژبو د ولسي ادبیاتو د منځپانګې څېړل او شـنل د هماغو ټولنو د وګړو کلتوري رازونه، کوډونه او ارزښـــتونه رابرســېره کوي. همدغه ټکي ته په کتو پکار ده، چې د پښــتو ژبې د ولســي ادب د هرې برخې د منځپانګې هر اړخیزه څېړنه او شــننه وشـي، چې نویو څېړونکو او د پښــتو ادب او کلتور مینه والو ته د پراخو څېړنو لپاره نوي څېړنیز موضـوعات او مواد په لاس ورشي، د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې په پښتو لنډیو کې لا د پښتنو د کلتوري موضوعاتو انعکاس د یوې مبرمې موضوع په توګه نه دی څېړل شـوی، نو اړینه ده چې په پیل کې په دې برخه کې لومړني او بیا هر اړخیز څېړنیز علمي او عملي ګامونه واخیسـتل شـي، چې دا برخه ورسره په ښه توګه روښانه شي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده، چې په پښتو لنډیو کې د پښتني کلتور د ځینو مهمو برخو انعکاس څرګند شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. لنډۍ څه ډول ژانر دی؟

۲. کلتور څه ته وایي او د انساني ژوند کومې برخې رانغاړي؟

۳. په پښتو لنډیو کې د پښتني کلتور انعکاس په څه ډول شوی دی؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې د پښـتنو ځینې کلتوري ارزښـتونه تشـریح شـوي او د اړتیا له مخې شـنل شـوي هم دي، یعنې د دې لیکنې منځپانګه په تشریحي او تحلیلي څېړندود سره بشپړه شوې ده.

## اصلي متن

لنډۍ د پښـتو ژبې ډېر لرغونی ولسي ادبي ژانر دی، چې څرګند ویونکي یې نه دي معلوم، خو د ټول پښـتون ولس شـریکه پانګه او ګډ کلتوري او ادبي میراث دی؛ لنډۍ ملي او پرګنیز رنګ لري، چې د همدغه اهمیت له امله د ټولو شـفاهي ادبیاتو په پیل کې ځای لري. لنډۍ چې په پښــتو ادبي متونو کې ټپه، ټکۍ او مســره هم بلل شــوې د بنې له مخې ځانګړی جوړښــت لري، چې د ولســونو له زړونو یې منشــا اخیستې ده. په پښتو لنډیو کې هر ډول مطالب ویل کېدای شي او څه هم چې پکې ویل شوي، خورا ډېر ولـسي، ساده، روان، خوندور او زړه راښـکونکي دي. د انســاني احســاس داسې منظومه ســندره ده، چې خورا ډېر ژور انســاني احســاســات، دردونه، هیلې، ارمانونه او د زړونو له تل څخه راټوکېدلي عواطف بیانوي. داسې سندره ده، چې د نړۍ د یوه دردېدلي انسان د زړه ټپونه، دردونه، خوشحالی، غمونه،

انګېرنې او هوسونه په خورا طبيعي ډول څرګندوي. د انسانانو د ننګ، بې ننګۍ، جګړې، نفرت، مينې، ظلم، بېلتون او مرګ کيسې کوي. طبيعت ستاينې، سيندونه، ځنګلونه، ګلان، درې، غرونه، وربځې، بارانونه، دښتې، کودرونه، وږمې، شپې، ترږمۍ، سپوږمۍ، سهار، مازيګر، بېلتون، د تورو شپو مزلونه، مايوسۍ، هيلې، برياليتوبونه، ناکامۍ، د ژوندانه سړې تودې، تورې، مېړانې او د ټپې زړونو ارمانونه يادوي.

محمد اکبر معتمد جنتي وايي:" لنډۍ د ولسونو د ذهنيت، کلتور او تمدن هنداره ده او د هغو د ذهني او خارجي شرايطو، تصوراتو، اجتماعي روابطو او هر ډول ګډو خصوصياتو انعکاس دی. لنډۍ د ولس خورا لويه شتمني او پانګه ده، د بشري افکارو او تجربو زېرمه چې په زرګونو کلونو کې د لنډيو په ذريعه راټوله شوې، له نبکه مرغه په قالبي او خوږو الفاظو کې خوندي ساتل شوې ده. د ولس فکر، هوښياري، ملي تاريخ، اجتماعي جوړښت، ژوند، نړۍ ليد، کړه وړه او عادتونه په سندرو او لنډيو کې په ښکاره او قوي ډول څرګند شوي دي. پښتو ژبه چې له باريکيو او اشعارو څخه ډکه ده، د لنډيو برخه يې خورا غنې او بډايه ده، دغه لنډۍ زيات اقسام لري، لکه په وزرونو باندې له يوې پېړۍ څخه بلې او له يوه نسل څخه بل ته الوځي او له يوې خولې څخه بلې ته ځي."( ١)

د لنډۍ د پېژندنې، جوړښت او په لنډيو کې د پرتو پښتني فکرونو، نظرياتو، فلسفو او تأثراتو په اړه ډېر څه ليکل کېدای شي او ښې ډېرې خوندورې خبرې او څېړنې پرې کېدای شي، خو له موضوع سره په تړاو به د لنډۍ په اړه همدومره خبرې کافي وي، چې وشوې.

## کلتور

کلتور(Culture)، ثقافت، تهذيب، مدنيت او هڅوب د لغت له مخې د بېلابېلو ژبو کلمې دي، خو په دغو کلمو کې د شاملو اجزاوو د بريدونو د تعريف پربنسټ کله مترادفې، کله هممعنا او کله هم په معنا کې سره نږدې کلمې ګڼل شوې دي، چې د ملتونو د ولسي ژوند مادي او معنوي اړخونه څېړي. په انګرېزي کې د عربي ژبې تهذيب او تمدن دواړو کلمو ته (Civilization) او ثقافت ته (Culture) کارول کېږي، خو په ځينو قاموسونو کې د تهذيب لپاره هم د کلچر کلمه کارول شوې ده. له دې امله چې دواړه کلمې له انساني ژوند سره اړيکه لري، جلاکول يې ګران دي. په تهذيب او ثقافت کې شامل اجزا سره نږدې او ورته دي، چې د ارتقاء په لومړنيو پړاوونو کې وي، ثقافت بلل کېږي او په پرمختللې بڼه کې پر تهذيب بدلېږي.

مولانا عبدالقادر د کلچر او ثقافت په ستړې تاريخي مجموعه کې دا اجزا شامل ګڼلي دي:" مذهب، د ولسي ژوند نظام، تمدن، تهذيب، دود دستور او رسم و رواج، روايات او ژبه، رسل او رسايل، هر قسم اداري، ولسي تنظيمونه، خپلولي، واده کوژدنه، له مړي ژوندي سره متعلق دود دستورونه، کيسې او روايتونه، دم درود، جادو، اقتصادي اداري او تنظيمونه، تعليم او تربيت، اداب، قانون، فلسفه، اخلاقيات، علوم او فنون، ادب موسيقي، نقاشي، لوبې او لنډه دا چې د ولسي ژوند له هر اړخ سره متعلق عمل چې د تاريخي دور له ابتدا څخه راپېدې خوا روان دی، د کلتور يا ثقافت په دايره کې شمارلی شي."(٢)

د کلتور د پېژند او په کلتور کې د شاملو برخو په اړه د پورتنيو څرګندونو په رڼا کې ويلای شو، چې ټول د انساني ټولنو ټول مادي او معنوي مواد او آثار د کلتور برخه دي، چې په دې کې فولکلور هم د کلتور يو جزء دی، خو له دغو ټولو خبرو سره سره د کلتور او فولکلور تر منځ چې کې شريک ټکي لري، تر يوه بريده پکې د جلاوالي پولې هم شته."کلتور د يوې ټولنې عمومي کړه وړه، اعمال، مهارتونه، عقيدې او سلوک را چاپېروي او فولکلور د يوې ټولنې د کلتور تکاملي پروسه ده او له کلتور سره په اړيکه کې دی، داسې هم ويل شوي، چې کلتور د انساني ټولنې د ژوند عمومي اړخونه رانغاړي او فولکلور د ژوند يوه پراخه برخه. "(٣)

که خبره رالنډه کړو، نو کلتور د کل او فولکلور یکې د جزء مثال لري، فولکلوري پدیدې د یوې ټولنې د کلتوري میراثونو زېرنده او د کلتور جزء وي او یو له بل سره نه شلېدونکې اړیکې لري. کلتور د یوه بې ټولو ونو بوټو ته ورته وي او فولکلور په بڼ کې د ځانګړو ونو او ځانګړو ګلانو او بوټو ننداره وي. لنډۍ د پښتو ژبې د ولسي یا فولکلوري ادبیاتو داسې ژانر دی، چې له پښتون قام او پښتو ژبې سره په تاریخي ډول ګام په ګام تر ننه رارسېدلی او د تاریخ په ټولو پړاوونو کې یکې د پښتني ټولنې د ټولو اړخونو اظهار شوی، خوله په خوله په ټول پښتون قام کې خپور شوی او خوندي شوی دی. د لنډیو په تخلیق کې ټول پښتانه برخه لري او د پښتني ولس ګډه پانګه ده، خو تر نرینه وو یکې د مېرمنو ونډه ډېره ده. وړاندې یادونه وشوه چې په پښتو لنډیو کې د پښتني ټولنې د ټولنیز ژوندانه هرې برخې انعکاس موندلی، خو په دې لیکنه کې زموږ موخه یوازې دا ده، چې په پښتو لنډیو کې د پښتني کلتور د ځینو برخو انعکاس وڅېړو، د دې خبرې یادونه هم اړینه ده، چې ټول کلتوري مسایل کټور، ښه او مثبت نه وي، بلکې ځینې منفي، بې ګټې او ناخوښه مسایل او پدیدې هم د یوه ولس د کلتور برخه ګرځي، نو په دې لیکنه کې ښایي ځینې مثبتې او منفي کلتوري برخې تر څېړنې لاندې ونیول شي.

## پښتو او پښتونولي

پښتون د قام او ملت نوم دی، خو که ووایو (پښتونولي) نو معنا یې دا شوه، چې د پښتون د کلمې ټول هغه محتویات، معنویات او صفات چې یو شخص وربانديې متصف شي، پښتونولي یې بولي؛ د پښتنو یعنې افغانانو قومیت د نړۍ د نورو قامونو په څېر یوازې د نسب سلسله نه، بلکې د اخلاقو ضابطه هم ده. که څوک هر څومره خپله د نسب سلسله پښتون ته ورسوي، تر هغې به پښتون نه شي، چې د پښتونولۍ په صفاتو او اخلاقو مزین نه شي. ارواښاد قیام الدین خادم په دې اړه وایي:" پښتو د پښتون د ملي ژوند، عزت، شرافت، لوړوالي، غیرت او همت یو داسې معیار دی، چې پښتون په دغه تله تلل کېږي. د پښتون په پښتو کې د ننګ، مېړانې، شجاعت، مېلمستیا، انتقام، سخاوت، عفوې، استقلال، ارادې، پت، ملګرتیا، دوستۍ، سادګۍ، صاف ګویۍ، حق ویل، بې پروایۍ، ایثار، قربانۍ، سیالۍ او داسې نور ډېر صفات شته. د پښتون پښتو له اسلام مخکې هم د پښتون قام د ژوند یوه ضابطه ده او د اسلام له قبلولو وروسته هم د پښتون پښتو قایمه ده. (۴)

له همدغه امله په پښتو لنډیو کې په پښتون او پښتونولۍ پورې د اړوندو ارزښتونو او کوډونو بار بار یادونه شوې او د تاریخ په اوږدو کې دغه ارزښتونه د پښتون قام د کلتور برخه ګرځېدلي، لکه:

پښتون په پت بانديې پښتون دی / د پت نښان به تل اوچت په جهان وینه

پښتون په توره کې پیدا دی / په توره لوی دی هم به مړ په توره شینه

پښتون د جنګ په ډګر مړ دی / پښتني نجونې یې په وینو ږدي خالونه

په پورتنیو لنډیو کې د پښتون، پت، د پت نښان، توره، په توره لوی، توره کې پیدا، په توره کې مړ، د جنګ ډګر، پښتني نجونې، د وینو خالونه د پښتون او د پښتونولۍ د هغو ارزښتونو او کوډونو له ډلې څخه ځینې دي، چې پښتو او پښتونولي یې لا تر ننه پورې د پښتون قام په قبیلوي او ټولنیز جوړښت کې نه یوازې ژوندۍ ساتلې، بلکې د پښتون قام د کلتور نه بېلېدونکې برخې ګڼل شوې دي. دروېش درانی پښتونوالي ته په دې نظر ګوري:" د هغو ارزښتونو نصاب دی، چې هر پښتون یې له ماشومتوبه زده کول پیل کوي. د دغه نصاب زده کړه چې په کومو ادارو کې کېږي، هغه د مور غېږ، د کور د نغري غاړه، د کلي حجره او جومات او بیا د ټولنې هر ګوټ او د ژوند هر ډګر وي. چرته چرته چې د دغې ټولنې لر یا ډېر وګړي سره مخامخېږي یا سره یوځای کېږي، هلته د دغو ارزښتونو زده کړه او ښوونه روانه

وي، هر پښــتون هم ښــوونکی او هم زده کوونکی وي، هره موقع د زده کړې او ښــوونې موقع وي. غم وي که ښــادي، واده وي که جنازه، دجنګ میدان وي، که د لوبو ډګر، د سوداګرو د راکړې ورکړې ساحه وي که د کروندګرو د کر کرونده هر ځای دغه زده کړه او ښوونه روانه وي."(۵)

## عشق، محبت او عاشقي

عشق، محبت او عاشقي له انسان او انساني ټولنې سره تړلي مسایل دي، په ځینو انساني ټولنو کې یې اظهار او عمل هېڅ ډول ننګ، شــرم او عار نه ګڼل کېږي، خو په ځینو نورو انســاني ټولنو کې ننګ، عار، شــرم او پېغور ګڼل کېږي. پښــتني ټولنه چې ســل ســلنه مسلمانان دي، نو په ډېرو کلتوري مسایلو کې اسلامي احکام او ارشادات ځینې کلتوري مسایل نفې کوي، خو پر عکس په ډېرو ځایونو کې پښتانه سره له دې چې مسلمانان دي. د اسلامي ارشاداتو خلاف عمل کوي، چې دغو ټولو خبرو پښتني کلتور جوړ کړی او اسلام د دې کلتور خورا مهمه برخه جوړوي. د پښــتنو پېغلو او ځلمو له نظره عشــق په مطلق ډول د مایوسی او محرومیت مجموعه ده، ځکه چې د پښــتون وطن په ببلابېلو کلیو او بانډو کې اوس هم ځینې دودونه شــته چې له امله یې پېغلې او ځلمي دا حق نه لري، چې له یو بل ســره ووینې او مینه سره ولري؛ ډېر وختونه د دوی لیده کاته د مرګ او تلپاتې دښمنیو او شخړو لامل ګرځي. نه یوازې مینه او مینتوب نه منل کېږي او نه منل کېده، بلکې که سره کوژدن شوي هم وي د دې حق نه لري، چې مخکې له واده له یو بل سره ووینې. البته نن سبا د پښتنې ټولنې په ځینو برخو کې دغه دود څه ناڅه بدل شوی، خو په کلیو او بانډو کې لا هم پر خپل حال پاتې دی؛ دغه کلتوري حالت او پېښو په پښتو لنډیو کې دغه ډول انعکاس موندلی دی:

څوک چې عاشق شي ملامت شي / د ملامتو مرستې هېڅوک نه کوینه

څوک چې رښتیني عاشقان وي / خلک لا پرېږده اسمان کېن ورسره کړینه

خاونده ژر تر ژر اختر کړې / چې د عاشقو سره وشي دیدنونه

زه په عاشق سړي پوهېږم / یا یې رنګ زېړ وي یا یې شونډې وچې وینه

دا هغه اسرې او نااميدی دي چې پښتنو ځلمیانو او نجونو په لنډیو کې د خپلې مینې او محبت لپاره ویلې دي. ځلمیانو به د خپل نه لیدلو محرومیت د له منځه وړلو کوښــښ کاوه او په پټه به یې په خواری او کړاو ځان پېغلې ته رســاوه او پېغلې به هم له دغه ډول لیدو کتو سره همغږې وې، نو ځکه په ځینو پښتو لنډیو کې دغه ډول حالتونه په ببلابېلو بڼو انځور شوي دي، لکه:

ټوخې ونه کړې یاره چپ شه / ستا په ټوخي به مې مور ویښه شي مَینه

او یا په حیرانتیا د خپل ځلمي ببباکی ته اشاره کوي او وایي :

څنګه په سپینه سپوږمی راغلې / تر چنار لوړه اشنا چېرې دې ساتمه

سپوږمی سلام به درته وکړم / جانان مې مه رسوا کوه ماته راځینه

## ننگ

پښــتانه ملي جګړو ته ننګ وايي او اســـلام ورته د غزا نوم ورکړی، پښـــتانه د ننګ په ډګر کې زلمو ته توريالي او په ننګ کې مړو ته اتل وايي، خو اسلام ژوندي ته غازي او مړ ته شهيد وايي. ننګ په پښتني چاپيريال کې د پښتونولۍ د کوډ يو خورا مهم ارزښت دی، ځکه خو د ملي جګړو ننګيالي په پښـــتنو کې د خورا ســـتر عزت او برم خاوندان دي او بې ننګه وګړي په پښـــتني ټولنه کې منفور او د ټولنې منزوي وګړي وي او په ټولنه کې چندان ځای نه لري. د ننګ مسئله په پښتنو او پښتونواله کې په جنس او شخص پورې ځانګړې نه ده، بلکې هر پښتون نرينه او ښځينه ته ننګ د پښتني کلتور باارزښته کوډ ښکاري او د ژوند تر وروستۍ سلګۍ هر پښتون نرينه او ښځه هڅه کوي، چې په خپله ټولنه کې د باننګو انسانانو په نوم ياد شي. شېرشاه سوري، ميرويس نيکه، احمدشاه بابا، خوشحال خان ختک، بايزيد روښان، ايپي فقير، عجب خان افريدی، باچاخان، غازي امان الله خان او د ازادۍ د لارې نور پياوړي مشران او سرتېري، چې پر خپل وطن، ناموس او خاورې يې ننګ کړی، د پښـــتنو په تاريخ کې خورا د ســـتر نامه خاوندان دي. همدا راز، نازو انا، زرغونه انا، ملاله ميوندی، عينو او نورې پښـــتنې مېرمنې د خپلو ننګياليو کارنامو له امله د پښـــتنو د تاريخ وياړلې څېرې دي، نو له همدغه امله ننګ د پښتني کلتور نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې او په پښتو لنډيو کې يې ذکر په دې ډول شوی دی:

يو خوا ته ننګ بل خوا ته مرګ دی / مرګ مې قبول دی بې ننګي نه قبلومه

سر مې له تن څخه جلا کړئ / که مې پګړۍ د بې ننګۍ ترلې وينه

بې ننګي تا وکړه جانانه / د ټول عالم پېغور دې ماته راوستنه

ټوټې ټوټې په تورو راشې / د بې ننګۍ اواز دې رامه شه مينه

جانان مې جنګ کې ماتې وکړه / په بېګانۍ ورکړې خوله پښېمانه شومه

پاچايي تخت مې پکار نه دی / جانان دې لو کړي زه به ورې ټولومه

خاونده سل ځله ژوند راکړې / چې د وطن په مينه سل ځله مړه شمه

جانان مې جنګ کې سر ورکړی / ځکه همزولو کې سرلوړې ناسته يمه

په پورتنيو لنډيو کې هم نرينه وو او هم ښځينه وو احساساتو ننګ ستايلی او بې ننګي يې غندلې، مرګ يې قبول کړی خو بې ننګي نه. پښتنې مېرمنې د خپلو خاوندانو په بې ننګۍ شرمېږي، ان د جګړې په ډګر کې د هغوی په مرګ خوښې وي، خو بې ننګي نه شي زغملی. د بې ننګۍ په حالت کې په ورکړې خوله پښـــېمانه وي او چې خاوند پر هېواد، ناموس، وطن او خاورې ننګ کړی وي، نو مېرمن يې په همزولو کې په خورا سرلوړۍ ژوند کوي.

## کوچي، کوچيتوب او کوچيان

هسې خو د ټول انساني ژوند د ابتدا يوه دوره کوچيتوب وي او د تاريخ په اوږدو کې انسانان د ګټو دلايلو له امله د نړۍ له يوې سيمې څخه بلې او له بلې سيمې څخه بلې ته کوچېدلي، چې ښه بېلګه يې د تور سمندر له څنډو د اريايي قبايلو منځنۍ اسيا، بلخ او بيا هند او ايران ته کوچ او مېشتېدل دي او لا هم په نړۍ کې ډېرې داسې انساني ټولنې او قبايل شته چې کوچيانی ژوند لري، چې له هغې ډلې ځينې

پښـتني قبيلې او خپلونه دي چې د خپلو څارويو، رمو او پادو د پاللو له امله په يوه ځای کې مېشـت ژوند نه لري، په اوړي کې په سـړو او په ژمي کې په تودو سـيمو کې په ټوله پښـتونخوا کې ګرځي راګرځي. په پښـتني ټولنه کې کوچي پښـتني قبيلو او وګړو د پښـتنو د فرهنګ او کلتور اصـلي کوډونه او برخې لا هم خوندي کړي دي. جرګه مرکه، ژوند ژواک، د جامو ډول، د ښـځينه وو ګاڼې او نور توکي د اصـلي پښـتني کلتور اسـتازولي کولای شـي؛ له همدغه امله کوچی، کوچيتوب او کوچياني ژوند د پښـتو ژبې د ولسـي ادب په هره برخه کې خپل ځای ساتلی او په ځانګړي ډول په پښتو لنډيو کې يې يادونه خورا ډېره شـوې ده، لکه:

بابا کوچيانو ته مې ورکړه / چې تورپېکی مې د هلمند شمال وهينه

د چلم سر په بيړه ډک کړه / د اوښـو لړ تر ميرام شا تېر شـو مَينه

کډې دې ولاړې کېږدۍ بار شوې / په لويه لاره به دې څرک باسم مَينه

مورې کوچي ته مې ور نه کړې / زه به اوښان ساتم که ځان به جوړومه

نه به نيازي په کورمه راشي/ نه به بنګښې سترګې تورې کړي مينه

## پت

په پښـتنه ټولنه کې پت، عزت او ابرو خورا ډېر مهم کلتوري ارزښـتونه دي. پښـتني کلتور د پت، عزت او ابرو پر سـاتلو باندې سـخت ټينګار کوي، لکه څنګه چې يو انسـان د خپل پت، عزت او ابرو سـاتلو کوښـښ کوي، همدغه ډول د نورو د عزت، ابرو او پت سـاتل پر ځان لازم ګڼي. دا خبره ان کله کله دې برید ته ورسي، چې ښـايي يو کار د بل انسـان په حق کې ظلم، جفا، تېری او زياتی وي، خو د پښـتني چاپېريال او پښـتني کلتور د ارزښـتونو له امله يو پښـتنون يا يوه پښـتنه مېرمن هرڅه په زړه تېروي، خو د پښـتونوالي د پت سـاتلو لپاره هېڅ هم نه وايي، پت په پښـتو لنډيو کې په بېلابېلو بڼو څرګند شوی، چې يوه بېلګه يې په دې لاندې لنډۍ کې ده:

د پښتنوالي درنه پټه / زما په خوله دې لاس نيوه ګونګه دې کړمه

" په دې لنډۍ کې د (پت) معنا دا ده چې ښـځه به د خپلو عشـقي او عاطفي علايقو هېڅ راز څرګندونه نه کوي، اجباري ازدواج ته به تن ږدي او د خپل ځان په خرڅلانه کې به د پلار، ورور او د کورنۍ د مشر ازادۍ ته تسليمېږي، د همدې غير انساني او ظالم پت د زغملو تر فشار لاندې پښـتنه ښـځه فريادي شـوه او وايي چې ای د پښـتونوالې زوروره او جابره دوده! زما خوله دې راپټه کړې ده، چيغو ته مې نه پرېږدې او ګونګه کړې دې يم ګڼې ما به ډېرې چيغې وهلې وای او عالم به مې په خپلو نارو ډک کړی و."(۶)

او يا دا چې:

پت ګر په سرو وينو کې خوښ يم / تل په بې پتو د جهان وي تومتونه

## ولور

د پښـــتنې ټولنې په ډېرو برخو کې د خور لور د ورکړې په برخه کې پلار يا ورونه پر خويندو او لونو ولور يا پيســې اخلي، چې دا کار د اسـلام د سـپېڅلي دين له نظره ناروا دی او د دغه ولور له امله ډېر وختونه د دوو کورنيو تر منځ لانجې هم پيدا کېږي او دا زړه بدوالی بيا د مېړه په کور کې له ناوې سـره په بد چلند تمامېږي، ځکه په ټوليز ډول د پښـتنو د پيداوار و پيسـو پيداکولو سـرچينې يا بېخي لږې وي او

که وي هم نو د ژوند د ټولو لګښتونو لپاره کافي نه وي، ځکه د کوزدې یا واده لپاره د ولور له امله پښتانه زلمي د عمر ډېره برخه په پردیو وطنونو کې په خوارۍ او مزدورۍ تېروي ، همدغه سخت ملا ماتوونکی کړاو د یو پښتون زلمي په دې لنډۍ کې داسې بیان شوی دی:

زه به دې مور ته زارۍ وکړم / پلار دې ظالم دی د ولور تمه کوینه

په دې لنډۍ کې په ښکاره د پلار استبداد او د ولور بیان شوی دی، خو که ټولنه ولور منسوخ کړي، نجلۍ په خپل واک د ژوند شریک وټاکي، نو بیا دا پورتنۍ لنډۍ خپل مفهوم له لاسه ورکوي او هغه نسل چې د ولور له مسئلو وزګار شوی وي بیا د دغه ډول لنډۍ په اورېدو نه حېرانېږي او نه به سندرو کې دغه ډول ناخوالې منعکسې شي.

## ستي

په اریایي قبایلو کې د ستي کېدو دود پر ښځو باندې د نرینه د جبر او تادا په تاریخ کې تر ټولو ستره انساني ضد کړنه ده. پخوا به د ستي دود له اصولو سره سم هره کونډه ښځه د خاوند له مړي سره یو ځای ژوندۍ اور ته اچول کېده، په ځینو لرغونو مذهبونو کې د مړي د سوځولو پر ځای د ښخولو عنعنه دود وه، هغوی به ښځه له خاوند سره ژوندۍ ښخوله، دغه دود په هندي اریایي قبایلو کې تر ډېر وخت پورې و. د پښتو ژبې په ولسي شعرونو په ځانګړي ډول په لنډیو کې د ستي کلمه ډېره کارول شوې ده، نو له دې ښکاري چې یو وخت ښايي په پښتنو کې هم دغه دود و او په لرغونو زمانو کې به پښتنې ښځې هم ستي شوې وي، لکه په دې لنډۍ کې چې راغلي دي:

ورک شې بېلتونه غم زرغونه / سوي داغونه راکوې ستي دې کړمه

ستا په یارۍ کې تومتي شوم / په اور ستي شوم څوک مې خوا له نه راځینه

ګودر دې ونیو تومتي شوم / په اور ستي وای تومتي مه وای مینه

## بدل

بدل د پښتونولۍ په اصولو کې مهم ځای لري، که یوه کورنۍ بلې کورنۍ، یو خېل بل خېل او یوه قبیله بلې قبیلې ته ځاني او مالي تاوان ورسوي یا شرم او سپکه ور واړوي، نو کور، خېل او قبیله له مقابل لوري څخه خپل بدل اخلي. پښتانه پوهېږي، چې پښتانه یو له بل څخه بدل اخلي، نو دوی د پښتونولۍ د کوډ د بدل له وېرې په اسانه پر یو بل تېری نه شي کولای. که له یوه اړخه د بدل وېرې په پښتني قبیلوي ټولنه کې د دې کار د مخنیوي یو ډول وېره رامنځته کړې، خو له بل اړخه د بدل اخیستو ډېرې پښتني کورنۍ، خېلونه او قبیلې په تلپاتې دښمنیو اخته کړې دي، ځکه داسې ویل کېږي، پښتون چې سل کاله وروسته هم خپل بدل واخلي، وایي تلوار مې کړی دی. بدل چې د پښتني ټولنې د کلتور برخه ګرځېدلی، نو په پښتو لنډیو کې یادونه داسې شوې ده :

د شهیدانو بدل واخله / بیا مې کوه د سینې تخت باندې خوبونه

د بدل نه اخیستو په حالت کې د کورنۍ نرینه غړو ته د کور کلي او نورو وګړو له خوا پېغور ورکول کېږي او د بې ننګه په نوم یې یادوي، تر هغې چې روغه جوړه نه وي شوې، بدل اخیستونکی په بدیدار پسې ګرځي چې خپل بدل ورڅخه واخلي.

## کونډتون

په پښتني ټولنه کې د کورنۍ میراث له نیکه، پلار یا مېړه څخه د ښځو پر ځای نرینه اولاد ته تکیه کوي، له نرینه سره د کورنۍ نوم ژوندی او میراث خوندي وي، ځکه په نرینه د کور ښځې راغونډې وي، نو کونډه یوازې نرینه زوی ته کونډتون کوي. د یوې پښتنې مېرمنې کونډتون د پښتونولۍ د اصولو له مخې د درناوي وړ کار دی، ځکه که له یوې خوا د خپل وفات شوي مېړه پت او ابرو ساتي، نو له بلې خوا له مړ شوي پلار څخه د راپاتې ماشوم او د هغه د جایداد سرپرستي کوي، خو د اسلامي شریعت له مخې کونډه د خپل اختیار خاونده ده، چې کونډتون کوي که له بل چا سره واده. همدا موضوع په پښتو لنډیو کې داسې منعکس شوې ده:

کونډې کونډتون دې مبارک شه / زوی دې زلمی شو په برېتو وهي لاسونه

که په یوه کور کې نرینه اولاد پاتې نه شي، نو د مړ پلار مال او جایداد د ورونو، تره زامنو او نورو نږدې خپلوانو میراث ګرځي. د نرینه اولاد د نشتوالي له امله کورنۍ ختمېږي، کورنۍ میراث بلې کورنۍ ته ځي، چې دا چاره په پښتني ټولنه کې د مېرمنو پر ژوند ډېره بده اغېزه کوي.

## ننو اتې

که یو پښتون خپله مور، خور یا مېرمن د ننواتې لپاره د بدل اخیستونکي کور ته ولېږي، د ننواتې په خاطر بدل اخیستونکي د پښتونولۍ په اساس له بدل څخه تېرېږي او د ننواتې له امله له پېغوره هم خلاصېږي، ځکه په پښتونولۍ کې ننواتې لېږل د تسلیمېدو په معنا تعبیرېږي. په پښتني ټولنه کې د پښتونولۍ د کوډ له مخې د ښځو ننواتې د شخړو د هوارولو ښه لار او د پښتنو تر منځ د شخړو د هوارولو اساسي وسیله ده. پښتو لنډۍ ده چې:

سر مې سرتور قرآن په غېږ کې/ د مرور یار ننواتې له ورځمه

## بې لوظي (بې لفظي)

پښتانه وایي: د پښتون یوه خبره وي. په دې معنا چې پښتون یو ځل له چا سره خبره وکړي، که بیا یې په دغه خبره او لوظ کې زیان هم وي له خپلې خبرې نه ګرځي. کله کله ځینې خلک بې لوظي کوي، په دې حالت کې ورته د پېغور او شرم په توګه داسې ویل کېږي: ته پښتون یې، په تا کې پښتونولي شته ؟ له همدغه امله لوظ او بې لوظي د پښتني کلتور مهمه برخه ګرځېدلې او پښتو لنډیو ته یې هم لار موندلې، لکه:

دا په پښتو ژبه کې نشته / چې بې لوظي له خپل اشنا سره کوینه

اوس هم په ځینو پښتني قبیلو کې د سوداګرۍ، پور، د ځمکې د خرڅلاو، د خور لور ورکړه شفاهي یا د ژبې په اساس کېږي. د ځمکو د خرڅلاو قوالې او نکاح خطونه نشته، د پښتونولۍ له مخې په ژبه ولاړ سړی ستایل کېږي او خلک په هغه اعتماد کوي او که څوک بې لوظي وکړي، نو بیا له دغو دریو حالتونو سره مخامخېږي:

۱. که یو سړی له چا سره د خور، لور د ورکړې ژبه وکړي یا ورته ځمکه ورکړي او دغه سړی خپله ژبه ماته کړي، د پښتونولۍ له مخې ژبه ماتېدونکی له مرګ ژوبلې سره مخامخېږي.

۲. که څوک د چا په پور منکر شي او یا په سوداګرۍ کې بې لوظي وکړي، له هغه څخه برمته کېږي.

۳. که څوک له بل سـره د جنس یا نغدي مرستې ژبه وکړي او خپله ژمنه پوره نه کړي، هغه دروغجن ګڼل کېږي او اعتبار یې هم ختمېږي. د قبیلوي ژوند د اړتیا له امله په ژبه درېدل د خلکو اجتماعي اړیکې پیاوړې کوي او لوظ ماتول د ګېوډۍ لامل ګرځي.

## پېغور

"پېغور د پښـتونولۍ د کوډ د ساتندویه قوې په توګه د پښتنو په اقتصادي، سیاسي او اجتماعي ژوند لوی تاثیر لري. د قبیلوي شـرایطو له مخې د پېغور په وجه فرد، کورنۍ، خېل او قبیله نشـي کولای چې د پښـتونوالي دکوډ پر ضـد عمل وکړي. د بدل د نه اخیسـتو، له مورچل نه د تېښتېدو، د ښځو په جنسي ارتباط او تیتېدو، د کورنۍ نارینه وو ته په جګړو کې د ښځو درناوی نه کول، په ملي جګړو کې د برخې نه اخیستو د لوظ نه ساتلو، د پګړۍ د مقام حیثیت نه ساتلو، د مېلمه د شـړلو په وجه پېغور کېږي او مرتکب یې د بې ننګه، ټګ، کورشـرمی او ډارن په نوم بلل کیږی"(۷)

پېغور یوازې هغه چاته نه ورکول کېږي، چې یو عمل یې کړی وي، بلکې د هغه کورنۍ، راتلونکی نسل او قبیله هم د هغه د کړنې له امله له پېغور سـره مخامخېږي. پېغور د عمومي رایې په توګه د پښـتونولۍ د کوډ د ماتولو مخنیوی کوي، د پښـتونولۍ په ضـد په منفي عمل بندیزونه لګوي او پښتانه په پښتونولۍ ټینګ ساتي. د ساري په توګه که یوه سړي ته د بدل د نه اخیستو په وجه پېغور کېږي، هغه زیار باسـي چې د خپلو بدو بدل واخلي او له پېغور څخه ځان خلاص کړي. په پښــتنو کې پېغور د زغم وړ خبره نه ده، ځکه د پېغور په وجه د یو فرد کورنۍ، خېل او قبیلې حیثیت له منځه ځي، نو د پېغور شدت او سختوالی په لاندې لنډیو کې اندازه کولای شئ:

هر څه چې تېر شي هغه هېر شي / کله هېرېږي د غلیم بد پېغورونه

د ګولۍ زخم ژر جوړېږي / د پېغور زخم تر قیامته پورې وینه

د تورې وار راباندې وکړه / راته را نه کړې د بې پتو پېغورنه

## زاړه ته د پېغلې ورکول یا ماشوم ته د کونډې کېنول

د قبیلوي جوړښـت او تربګنیو له امله او یا دا کله چې ځینې پښـتانه پیسـې پیدا کړي نو لومړی کار یې دا وي، چې ډېرې ښـځې کوي او په ډېرو پښتني سیمو کې د غربت او فقر له امله ډېر خلک خپلې کوچنۍ یا پېغلې لونې او خویندې د پیسو په مقابل کې د پاخه عمر وګړو ته ورکوي او یا د پښــتني قبیلوي دود له مخې کونډې ته د مېړه له مړینې وروســته دا واک نه ورکوي، چې په خپله خوښــه مېړه وکړي او په لوی لاس یې دې ته مجبوروي، چې د مېړه په کور یوه ماشـوم ته کېني، خو بل چېرته مېړه ونه کړي. د اسلامي شـریعت له مخې دا کار سم نه دی، خو د پښـتني کلتور او دود برخه ګرځېدلې دی. په عمر پاخه سـړي ته د پېغلو نجونو ورکړه، که څه هم نن سـبا کمه شـوې، خو لا هم داسې سـیمې شـته چې دغه ناروا پکې روانه ده، نو په پښتو لنډیو کې پښتني نجونو د دغو نارواوو په اړه د خپلو زړونو دردونه په لنډیو کې داسې بیان کړي دي:

ولې به نه ژاړم عالمه / چې زوړ سړی مې د پالنګ تمه کوینه

زما په برخه دې کمکی کړ / زه چې کمکی یار لویوم زړه به شمه

پلاره کلا دې هدیره شه / چې ترېنه وځي په ژړا ملالې نجونه

صورت مې خپل واک یې د بل دی / صورته خاورې شې چې نور دې واک کوینه

زه د ظالم دادا له لاسه / د مرګي سین ته ولوېدم کته مې وړینه

پلاره کوډله دې ایره شه / سورکۍ منه دې په کارغانو وخوړمه

مورې ستي شې پلاره ومرې / زه د نیکه په کټ کې خاورې ایرې شومه

په سره دوزخ کې دې دېره شه / کور دې ایره شه زه دې اور ته ونیومه

زه دې زاړه غوایي ته ورکړم / کور دې ویران شه خپله پلاره لور دې یمه

خرڅه دې کړم ښاده دې نه کړم / شیرینه وروره ودې مه وځه ارمانونه

## ګودر

د ګودر کلمه د پښتو په فولکلوریک ادب کې خورا ډېره تکرار شوې، چې له اورېدو سره یې انسان ته د پېغلو کتارونه، د منګیو رنګیني او ښکلا، د مینو دیدنونه، د روانو اوبو مستې څپې او خوندونه او د پښتني ټولنې د ټولنیز ژوند د یوې رنګینې هنداري انځور مخې ته راځي، چې ډېرې خبرې او خوندونه لري. پښتنې مېرمنې سربېره پردې چې په کور کې کار کوي، پخلی او د کور نور کارونه کوي، له ګودر څخه اوبه هم راوړي. له ګودر څخه اوبه راوړل، که څه هم د نجونو لپاره یوه سخته چاره ده، خو د ګودر خوندونو دا هرڅه هېر کړي وي، د ګودر په اړه خورا ډېرې لنډۍ ویل شوي او هره برخه یې په پښتو لنډیو کې انځور شوې، لکه:

که دیدن کړې ګودر ته راشه / زه به منګی په لپو ورو ورو ډکومه

د جلالا ګودره وران شې / په جینکو دې سالندۍ ولګونه

اوبه د کوز ګودر خوږې دي / زه د جانان لپاره بر ګودر ته ځمه

اوبه د هر ګودر خوږې دي / جانانه ستا لپاره کوز ګودر ته ځمه

پر ګودر سور سالو ښکاره شو / ما وې دا تورو اوبو اور واخیست مینه

خاونده ما د ګودر ګل کړې / چې جینکۍ مې شوکوي سر کې مې ږدینه

که پورتنۍ لنډۍ په موضوعي لحاظ وشنل شي، نو ډېرې خبرې او موضوعات لري، چې له هرې یوې څخه یې د پښتنو د ټولنیز ژوند بېلابېلې برخې ځرګندېږي.

## پګړۍ

په پښتونولۍ کې پګړۍ د نارینتوب او مېړاني سمبول وي، که د یو خېل، پښې یا قبیلې خان مړ شي، د هغه له مړینې وروسته قومي مشران، سپین ږیري او روحانیون راغونډېږي او د هغه زوی یا ورور ته د مشرۍ پګړۍ و ر په سر کوي. د پښتونولۍ د کوډ له مخې د پګړۍ ځښتن د خپل ولس د دودونو او رواجونو استازولي کوي، په ولسي او قامي جرګو او جګړو کې فعاله ونډه اخلي او د خپلې قبیلې د

استازي په توګه د نورو قبیلو له مشرانو سره اړیکې ساتي. د پګړۍ څښتن د اقتصادي او ټولنیز نفوذ او د کورنۍ او قام د حیثیت لپاره او تربور او نورو مخالفانو ته د مشرۍ د لېږد له وېرې هڅه کوي د پښتونولۍ د ارزښتنو خلاف کار ونه کړي، دا چاره په پښتو لنډیو کې داسې انځور شوې ده:

سر مې له تن څخه جلا کړئ / که مې پګړۍ د بې ننګۍ تړلې وینه

"هغسې چې پېغلو او ښځو لپاره پوړونی، پټکی، سور سالو د ښایست او عزت نښه وه د ځلمو لپاره د پګړۍ جګوالی، ټوپک کرځول او په ټولنیز ژوند کې د مېړانې همت او ښه ځوانۍ نښه بلل کېده، دا ځکه په ملي سندرو کې ډېرې زیاتې اشارې ورته شوې دي."(٨)

او پېغلې او پښتنې ښځې تل د ځوانانو د ستاینې په وخت کې وایي:

تر دا کېږې پګړۍ دې جار شم / د دښمن وینې تویوه ګرانه مینه

چې تا پګړۍ پر سر کېره کړه / زه به چارګل په پوزه نېغ ودرومه

## نکریزې

نکریزې ایښودل، لاسونه او پښې سره کول د پښتني ټولنې په کلیوالي او کوچیاني ژوند کې لا هم لکه د پخوا په څېر شته، په تېره په ودونو، اخترونو او د ښادۍ په نورو ورځو کې لاسونه او پښې سره کول د نېکمرغۍ نښه ګڼل کیږي. که څه هم نکریزې ایښودل د سیمې په شاوخوا نورو نا پښتنو ولسونو کې هم دود دي، خو په تاریخي لحاظ دا اوس د پښتني کلتور د ځینو مهمو کوډونو لکه واده، اختر او نورو د خوښۍ د مراسمو برخه ګرځېدلې او په پښتو لنډیو کې یې هم انعکاس موندلی دی، لکه:

یار مې په سرو لاسو مَین دی / زه به نکریزې په خپل کور کې شنې کومه

## شنه خالونه

پښتنې نجونو او مېرمنو لکه د نن سبا په څېر د ښکلا مصنوعي وسایل نه درلودل او نه یې هم له کرکیلې سره د بوخت مله ژوند له امله هره ګړۍ د ښکلا او ځان جوړولو لپاره وخت درلود، نو د ښکلا لپاره به یې پر مخ، وچلي، باړخوګانو او د زنې پر سر شنه خالونه وهل. دا دود لا هم د پښتني ټولنې په ډېرو برخو کې ژوندی دی او د ښکلا د نویو شیانو له راپیدا کېدو سره خو نن سبا پر شنو خالونو سربېره بلا نور رنګونه د خالونو پیدا شوي او پښتني پېغلې یې د لږ وخت لپاره ږدي. شنه خالونه له هغو دودونو څخه وو، چې ان اوس هم لا په کلیو او بانډو کې پېغلې پر تندي او زنه خالونه ږدي او د ښایست یو رکن بلل کېږي او په لنډیو کې ډېر یاد شوی دی، نجونې خالونه د ښکلا او خپل مین لپاره وهي لکه وایي، چې:

هلک په شنو خالو مین دی / نجونې بدرنګې کړې چې نه وهي خالونه

خدای به دې بیا راته محتاج کړي/ که مې په لنډه زنه ووهل خالونه

زما د زنې خال دې وران کړ / ماته مې مور په ډېر کړاو وهلی ونه

د سپینې خولې واک مې درکړی / د زنې خال مې یاره وران نه کړې مینه

### سترګي تورول

ســترګي تورول هم یو له هغو دودونو څخه دي چې لا تر اوســه زموږ په کلیوال ژوند کې په خپل اصــلي حالت پاتې دي، په تېره بیا په ښــادیو کې د خوشــحالی د ګډون لپاره نه یوازې پیغلې او زلمي ســترګي توروي، بلکې زاړه خلک هم ســترګي توروي، ان ځینې وختونه خو زاړه خلک رانجه د سترګو د دیدن د زیاتوالي سبب بولي. د سترګو تورول په پښتو لنډیو کې په دې ډول یاد شوي دي:

ماته نری سلايي راوړه / زه ستا په یاد کې نری سترګي تورومه

سترګي نری توري مزه کړه / دا ګډوډې سترګي ډمې تورونیه

### کرکیله او کرونده

د پښتني ژوند ډېره برخه له کرکیلې، خواری مزدوری او زمینداری سره مله ده، نږدې اویا سلنه پښتانه په کرکیله بوخت دي. له دې امله چې د دوی سروکال د غریبی او ناداری له امله په ځمکو کې په کار کولو تېرېږي، نو له نرینه وو سره ښځې هم د خپلو مېړونو، ورونو او کورواالوو ســره د پټي او کرکیلې په کارونو کې مرســته کوي. که نرینه یووه کوي، ښــځې ورته ډوډۍ او اوبه برابروي او یا د کرکیلې په هغو کارونو کې ورسره مرسته کوي، چې مېرمنې یې کولای شي. کرکیله او کار د پښتون قام د کلتور یوه نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې، نو ځکه په پښتني سندرو کې د پښتنو د دغه ټولنیز ژوند بېلابېلو برخو یادونه داسې شوې ده:

پاچایي تخت مې په کار نه دی / جانان به لو کړي زه به وږي ټولومه

جغ په اوږه چوکه په لاس کې / زه د بېلتون یوې ترږم اغزي کرمه

چې لو او لور شي خواري زور شي / په بخملي ګوتو به وږي ټولومه

د پسرلي لوونه ګډ شول / نجلی په سرو منګولو وږي ټولوینه

ستا اشنايي د اوبو ورخ دی / چې چینارونه پکې ږدم اوبه یې وړینه

یار مې د سرو غنمو لو کا / سپینه خولګۍ سبا ناری ورته وروړمه

یار مې د ډاګ ګرمیو وسو / زه به د سپینې خولې شبنم پرې اورومه

### مېلمه پالنه

د مېلمه پالنې عادت په پښــتنو کې ډېر لرغونی دی او مېلمه پالنه هر پښــتون د خپل ژوندانه ضــروري برخه ګڼي، څوک چې ځان پښــتنون ګڼي هغه باید مېلمه پال وي. د پښــتنو د مېلمه پالنې په اړه نورو هم څه لیکلي دي. مولوی عبدالحمید افغاني د تاریخ افاغنه په ۱۹۷ مخ کې لیکي :" په افغانســتان کې هېڅ مسافر ته د لارې دخرڅ ضرورت نشته، په مېلمه پاللو کې ښځې د نرینه وو نه کمې نه دي، که سړی په کور کې نه وي مېلمه ته هم څه تکلیف نه رسي. د مېلمه پالنې ټول ضروریات پخپله ښځې پوره کوي. د پښتنو د ملک په ځینو برخو کې اوربشې ډېرې کېږي، خو د مېلمه لپاره ضرور د پټي په کومه برخه کې غنم کري، د فصــل له اخیســتو وروســته دا غنم په ډېر حفاظت ســره مېلمه ته ســاتي ان تر دې چې خپل اولاد ته یې نه ورکوي. ډاکټر نهري هراس هسپانوي د بهبین یونیورسیتي د تاریخ پروفیسور د خپل هغه سـفر په حالاتو کې چې په ۱۹۳۵ ز کال یې په افغانســتان کې کړی و، داسې لیکي:"

افغانان پښتانه او نور قبايل چې دلته اوسېږي دمېلمه په وجود ډېر فخر کوي کوم وخت يې چې ځای ته راشي نو ستا د صحت پوښتنه کوي، درته به وايي چې په کټ ياليمڅې کېنه... ستوماني اوباسه! د مخ او لاسونو د مينځلو لپاره درته تودې اوبه راوړي، چای درته تياروي. ټينګيږي چې غرمه موږ سره تېره کړه او ډېر کوښښ کوي چې شپه له دوی سره پاتې شې. د دې طبيعي او مخلصانه احتراماتو او لمانځلو نتيجه دا وي، چې سړی په افغانستان کې داسې فکر کوي، چې په کور کې يې له افغانستانه بل هېڅ ځای کې د انساني ورورولۍ حس دومره زيات او علم نه ليدل کيږي."(٩)

ستا د ښايست ګلونه ډېر دي / څولۍ مې تنګه زه به کوم يو ټولومه

پښتني کلتور خورا ډېر بډای دی، بېلابېل اړخونه لري، د ژوندانه داسې برخه نشته، چې ځينې خبرې، ځينې ارزښتونه او ځينې مسايل يې د پښتنو دکلچر برخه نه وي ګرځېدلي او پښتانه ورته په درناوي او درنښت نه وي قايل. دا ډېره ګرانه ده، چې د ټول پښتني کلتور ارزښتونه وڅېړو او بيا دا روښانه کړو، چې په پښتو ولسي سندرو او په ځانګړي ډول په پښتو لنډيو کې دغه پښتني کلتور څه ډول انعکاس موندلی دی. په دې ليکنه کې موږ په پښتو لنډيو کې د ډېرو لږو پښتني ارزښتونو انعکاس څېړلی، که ژوند باقي و، په دې اړه به هر اړخيزه څېړنه وکړو او د اوس لپاره به په همدې بسنه وکړو.

## پايله

لنډۍ د پښتنو د ولسي ادب داسې شعري فورم دی، چې د پښتون قام او پښتو ژبې له پيدايښته تر ننه پورې ژوندی دی او نړدې د ژوندانه په هره مسئله کې پکې پښتنو د زړه اظهار کړی دی. هېڅ ويونکي يې نه دي څرګند، خو هر پښتون يې مالک او خاوند دی او فکر کوي، چې د زړه خبرو يې پکې ځای موندلی دی. د کلتور د تعريف په برخه کې موږ دې پايلې ته ورسېدو، چې د ژوندانه ټولې مادي او معنوي خواوې د انساني کلتور برخه وي، يعني د انسان ټول ژوند، نو په دغه اساس د تاريخ په اوږدو کې د پښتني قام کلتور او د ژوند ژواک اړخونو د پښتنو په ولسی شاعرۍ کې د اهميت وړ ځای پيداکړی او نږدې ټولې کلتوري پديدې يې په ولسي شاعرۍ کې خوندي شوي، چې له ډلې يې په پښتو لنډيو کې هم پښتني کلتور په ډېر ښه انداز انعکاس موندلی او که مبالغه ونه کړو، نو د پښتون قام د کلتور هره برخه په پښتو لنډيو کې راغلې ده. د پښتنو کلتور خورا غني دی او ډېرې برخې او اړخونه لري، ډېره ګرانه ده چې په پښتو لنډيو کې دې د ټول پښتني کلتور د انعکاس څرک ولګول شي، نو له همدې امله موږ په دې ليکنه کې يوازې له ځينو کلتوري برخو څخه پرده پورته کړې ده.

## مأخذونه


١. معتمد جنتي، محمد اکبر. پښتو لنډۍ، د سليمان لايق او مجاوراحمد مومند په زيار، پښتو ټولنه: دولتي مطبعه، ١٣٦٣ ل کال، ۴ مخ.

٢. عبدالقادر، مولانا. د فکر يون، دويم چاپ، د عبدالرحمن شباب په زيار: يونيورسيټي بک ايجنسي: پېښور، ١٩٩٧ ز کال،٢۴٢ مخ.

٣. زغم ، احمدشاه. فولکلور او فولکوري ادبيات، د افغانستان ملي تحريک فرهنګي ځانګه: ١٣٩۴ ل کال، ١١ مخ.

۴. خادم، قيام الدين. پښتونولي (مقاله)، پښتو څېړنې، پښتو ټولنه، د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز د نړيوال سيمينار د مقالو مجموعه، ١٣۵۴ل کال، ١١٠-١١١ مخونه.

۵. درانی، دروېش. د پښتني ژوند کره وړه، صحاف نشراتي مؤسسه: زم زم پريس کراچی، ٢٠١۴ ز کال،١۵٣ مخ.

۶. لايق، سليمان. پښتو لنډۍ، سريزه، نيو کابل کتاب پلورنځی، کابل، چاپ کال؟ ، ٧۵ مخ.

۷. امین ، عبدالرســول. په پښــتو لنډیو کې د پښــتنو د اجتماعي ژوند انعکاس، وږمه (مجله ). د ادبیاتو او بشــري علوم پوهنځی، کابل پوهنتون، نولسم کال، څلورمه ګڼه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۴ ل کال، ۶۱ مخ.

۸. عصـمتي، معصـومه. پښـتو څېړنې، د ښځو برخه په شـفاهي ادب او په تېره په لنډیو کې، پښـتو ټولنه: دولتي مطبعه، ۱۳۵۶ ل کال، ۱۲۹ مخ.

۹. ګوربز، میراحمد. په پښتني فولکلورکې ټولنیز ارزښتونه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، بهیر مطبعه، ۱۳۹۰ ل کال، ۹۶ مخ.